۰۳ لارښوود

# پرانتفاعي معاملو باندې ماليه

منل | خدمت | ډاډ

اطاعت پذیری | خدمت | اطمینان

Compliance | Service | Making Sure

د عوایدو لوی ریاست
ریاست عمومی عواید
Afghanistan Revenue Department

## سریزه

د انتفاعي معاملو مالیه هغه مالیه ده چې د پلور او خدمتونو له درکه د هغو حکمي اشخاصو د مجموعي عوایدو (له هرډول کسراتو څخه دمخه) له درکه د ورکړې وړ ده چې د ورکړو (د پیسو او یا هم د مالونو/ خدمتونو) په بدل کې مالونه او خدمتونه چمتو او وړاندې کوي.

له څرنګه چې په لاندې برخه کې څرګنده شوې ده، دانتفاعي معاملو مالیه پرحقیقي (انفرادي) اشخاصو باندې په ځینو ځانګړو حالتونو کې وضع کیږي.

د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو په قانون کې د انتفاعي معاملو مالیه د ډیر شمیر هغو مواردو د معاف کولو له لیارې چې پخوا د مالیې وړ وه آسانه شوې (د انتفاعي معاملو له مالیې څخه د معاف عوایدو برخې ته مراجعه وکړئ) او په استثنایي توګه د ځینو هغو عوایدو په مالیاتي نورم کې کموالي رامنځته شوي دي چې د ۲ فیصده مالیې تابع دي.

## کوم اشخاص باید د انتفاعي معاملو مالیه ورکړي؟

یو حکمي شخص (سهامي شرکت، محدود المسؤلیت شرکت، تضامني شرکت او داسې نور) مکلف دي چې دهرې ربعې مالیاتي اظهارلیک وړاندې او مالیه یې ورکړي.

هغه حقیقي شخص چې په یوه ربع کې ۷۵۰۰۰۰ افغانۍ او یا هم له دې څخه زیات عواید ولري، مکلف دي چې د نوموړې ربعې مالیاتي اظهارلیک او مالیه ورکړي.

هغه حقیقي شخص چې یو هوټل، رستورانت او یا میلمستون لري او ربعوار عواید یې له ۷۵۰۰۰۰ افغانیو څخه لږ وي، نوموړي هم مکلف دي چې د نوموړې ربعې مالیاتي اظهارلیک او مالیه ورکړي.

### یادونه

یادونه: د مالیاتي لارښوودونو، فورمو، د مالیاتو د سنجونې (محاسبې) او اجرایوي اقداماتو په بدل کې د مالیې وزرات، د عوایدو لوی ریاست او مستوفیتونه هیڅ ډول فیس یا لګښت نه د ورکړې وړ نه دي.

## د محاسبې میتود

د انتفاعي معاملو مالیه د "مجموعي عوایدو" له درکه ورکول کیږي. د"مجموعي عوایدو" اصطلاح د نغدو پیسو د محاسبې په معنی ده. یعني عواید هغه وخت لاسته راځي کله چې پیسې له هرډول کسراتو څخه د مخه لاسته راشي.

## د اسنادو یا معلوماتو ساتنه

د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د پنځم فصل د احکامو پربنسټ مالیه ورکوونکي مکلف دي چې د مالیاتي سم رقم د ورکړې د ثبوت په موخه د محاسبې اړوند پوره کتابونه او اسناد له ځان سره وساتي. د یاد قانون د ۱۹ مادې پربنسټ د مالیې وزارت دا واک لري چې د مالیه ورکوونکي او دده د اړوندو کسانو اسناد او کتابونه و ارزوي.

## پرعایداتو باندې د مالیاتو په موخه د انتفاعي معاملو مالیې څرنګوالی

د انتفاعي معاملو مالیه د سوداګریز فعالیت لپاره یو ساده او اړین لګښت ګڼل کیږي او له همدې امله د مالیې وړ کلنیو عوایدو د محاسبې پرمهال له مجموعي عوایدو څخه د مجرایي وړ ده.

## مالیاتي نورم او تطبیق

د انتفاعي معاملو مالیه درې نورمونه لري: ۲ فیصده، **۵** فیصده، او ۱۰ فیصده. دا هغه نورمونه دي چې د سوداګریزو فعالیتونو او تشبثونو پرهغو ډولونو باندې تطبیقیږي چې د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو په قانون کې څرګند شوي دي.

هغه عواید چې د ۲ فیصده انتفاعي معاملو مالیې تابع دي
له لاندې استثنای مواردو سره ټول ناخالص عواید د ۲ فیصده مالیې تابع دي:

- هوټلونه
- رستورانتونه
- مخابرات
- هوايي شرکتونه
- د اړوندو پروګرامونو لپاره تالارونه او کلپونه

د هوټلونو، رستورانتونو او میلمستونونو ربعوار عواید چې له ۷۵ ۰۰۰۰ افغانۍ څخه لږ وي، د ۲ فیصده انتفاعي معاملو مالیې تابع دي.

د وارداتو ناخلص ارزښت ( د هرډول ورکړل شوي ګمرکي محصول په ګډون) د ۲ فیصده انتفاعي معاملو مالیې تابع دي. د وارداتو له کبله د ۲ فیصده انتفاعي معاملو مالیه به دهغې مالیې انتفاعي معاملو مالیې په توګه وګڼل شي چې ترمخه ورکول کیږي. که چیرې د وارداتو پرمهال ورکړل شوي رقم د انتفاعي مالیې له رقم څخه زیات وي، زیات رقم د راتلوونکي کال لپاره د امتیاز (کریډټ) په توګه نه ورکول کیږي.

## هغه عواید چې د ۵ فیصده انتفاعي معاملو مالیې تابع دي

د هغو تالارونو او کلپونو( لکه د ودونو تالارونه) عواید چې پروګرامونه پکې جوړیږي.
د رستورانتونو، هوټلونو او میلمستونونو ربعوار عواید چې رقم یې ۷۵ ۰۰۰۰ افغانۍ او یا هم له دې څخه زیات وي.

هغه عواید چې د ۱۰ فیصده انتفاعي معاملو مالیې تابع دي

د عصري رستورانتونو او هوټلونو څخه لاسته راغلي عواید.

د مخابراتي او هوايي شرکتونو عواید پرته له دې چې مالیه ورکوونکي مالیه پیرودونکي ته لیږدولې ده او کنه.

## د خدمتونو تعریفونه

هغه حکمي شخص (سهامي شرکت، محدود المسؤلیت شرکت، تضامني شرکت او داسې نور) یا هغه حقیقي شخص چې د یواځني (واحد) مالک په توګه داسې یو خدمت وړاندې کوي چې په لاندې کتګوریو کې تعریف شوي دي ، نوموړي مکلف دي چې په ربعواره توګه مالیاتي اظهارلیک وړاندې او مالیه ورکړي.
د لږوخت او سیدونکو لپاره د خوب ځای چمتوکول او د نورو اړوندو خدمتونو لکه د خوراک او څښاک چمتوکول، د جامووینځلو او مخابراتي اسانتیاوو برابرول دهوټل له خدمتونو څخه عبارت دي.

په لږ وخت کې د یو رستورانټ لخوا مراجعینو ته د سملاسي خوراک او څښاک چمتوکول، د چمتو شوو خوړو برابرول او دهغو پاخه شوو خوړو پلورل چې په رستورانټ کې چمتو شوي دي، د رستورنټ له خدمتونو څخه عبارت دي.

د هرډول ټیلفون، انټرنټ او فاکس خدمتونو وړاندې کول له مخابراتي خدمتونو څخه عبارت دي.

مسافرینو ته د هوایي خدمتونو (چې پرواز یې له افغانستان څخه صورت موندلای وي) وړاندې کول له هوایي خدمتونو څخه عبارت دي.

## د یو تشبث یا یو سوداګریز فعالیت لپاره څنګه دا مختلف مالیاتي نورمونه کارول کیدای شي؟

د تطبیق وړ انتفاعي معاملو مالیې مختلف نورمونه د هغو فعالیتونو له مخې کارول کیږي چې له مخې یې عواید لاسته راځي او د اړوندو ناخالصو عوایدو له لیارې ښودل کیږي.

لومړۍ بیلګه: کابل نایټ رستورانټ (چې یو حکمي شخص دي) د ماښام خواړه برابروي او د خپلو خدمتونو د وړاندې کولو له امله د ۱۰ فیصده انتفاعي معاملو مالیې تابع دي. نوموړي رستورانټ

همدارنګه لاسي صنایع پلوري او له امله يې د ۲ فیصده مالیې تابع ګرځي.

## دا مختلف نورمونه په یوه ربع کې څنګه تطبیق کیداي شي؟

دویمه بیلګه: د یواځني (واحد) مالک په توګه احمد لږه موده وړاندې په کابل کې یو رستورانټ پرانست چې په لومړیو درې میاشتو (میزان، عقرب او قوس) کې یې د رستورانټ میاشتني عاید ۲۷۴۰۰۰ افغانۍ وه. دا چې په دې ربع کې یې د خرڅلاو رقم له ۷۵۰۰۰۰ افغانیو څخه لږ وه، نومړي رستورانټ (سره له دې چې واحد مالکیت دی) په دې ربع کې د مجموعي عوایدو له کبله د ۲ فیصده انتفاعي معاملو مالیې یا ۵۴۸۰ افغانیو تابع دی.

دریمه بیلګه: د احمد رستورانټ ډیر شهرت موندلای او سوداګریز فعالیت یې هم وده کړې ده. د حمل، ثور او جوزا په میاشتو کې د احمد مجموعي عواید ۹۷۰۰۰۰ افغانۍ وه چې د ۷۵۰۰۰۰ افغانیو له ټاکلي اندازې څخه زیات دي. بناءً، احمد په دې ربع کې د ۵ فیصده انتفاعي معاملو مالیې یا ۴۸۵۰۰ افغانیو تابع دی.

## د انتفاعي معاملو مالیه کله ورکول کیږي؟

د هجري لمریز کال پربنسټ د مالیاتي فورمو او مالیاتو ورکړه په ربعواره توګه صورت مومي. مالیه باید په افغانیو اسعارو، په افغانستان بانک کې او د هغې ربعې له پای نه وروسته چې پلور پکې صورت موندلای دي، په ۱۵ ورځو کې ورکړل شي.

| ربع | د ورکړې نیټه |
|---|---|
| حمل - جوزا | د سرطان ۱۵ نیټه |
| سرطان - سنبله | د میزان ۱۵ نیټه |
| میزان - قوس | د جدي ۱۵ نیټه |
| جدي - حوت | د حمل ۱۵ نیټه |

**ثلورمه بېلګه:** د هجري لمريز کال د دريمې ربعې (ميزان - قوس) په جريان کې د اِې بي سي شرکت د کميشن له درکه ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ او د توليداتو د پلورله درکه ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړلې. نوموړي شرکت د کميشن له درکه او د توليداتو د پلور له درکه د لاسته راغلو عوايدو محاسبه په لاندې ډول ترسره کړه: ۶۰۰۰ افغانۍ [ ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ + ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ) ۲ ٪ x]. د اِې بي سي شرکت بايد مالياتي اظهارليک او دا رقم د جدي تر ۱۵ نيټې پورې په افغانستان بانک کې تسليم کړي.

**پنځمه بېلګه:** د پورتنۍ دريمې بېلګې له مخې احمد خپله د ورکړې وړ ماليه د ۹۷۰۰۰۰ افغانيو له درکه (حمل، ثور او جوزا) محاسبه کړه چې ۴۸۵۰۰ افغانۍ دي. دا چې د مالياتي اظهارليک وړاندې کول او د ماليې ورکړه په ربعوار ډول صورت مومي، نوموړي بايد خپل مالياتي اظهارليک او ماليه د سرطان تر ۱۵ نيټې پورې په افغانستان بانک کې تسليم کړي.

## مالياتي فورمه او د ماليې محاسبه

د انتفاعي معاملو ماليې د فورمې په ثلورو برخو کې لاندې معلومات ليکل کيږي: نوم، پته، د ماليه ورکوونکي د پېژندنې نمبر، د تشبث ډول، د هرډول انتفاعي معاملو ماليې مجموعي عوايد، هر ډول انتفاعي معاملو ماليې مجموعي مالياتي رقم او د ورکړې وړ مجموعي ماليه. د فورمې يوه کاپي د افغانستان بانک صراف ته د ماليې د ورکړې پرمهال ورکول کيږي. د يادې فورمې دوه کاپي د بانک لخوا د ماليې وزارت استول کيږي او ثلورمه کاپي يې له ماليه ورکوونکي سره پاتې کيږي.

که چيرې د انتفاعي معاملو ماليه د ربعې په جريان کې وضع او ورکول شي (د بېلګې په توګه د انتفاعي معاملو هغه ماليه چې له دولتي قراردادونو څخه لاسته راځي)، ياده ماليه بايد د محاسبې پرمهال د انتفاعي معاملو ماليې په فورمه کې شامل کړل شي.

**شپږمه بیلګه:** د پورتنۍ لومړۍ بیلګې له مخې د کابل نایټ رستورانټ د رستورانتي خدمتونو (خواړه، څښاک او داسې نور) له درکه لاسته راغلي عواید د ۱۰ فیصده انتفاعي معاملو مالیې او له لاسي صنایعو څخه لاسته راغلي عواید د ۲ فیصده انتفاعي معاملو مالیې تابع دي.

د **۱۳۸۹** کال د دویمې ربعې په جریان کې د کابل نایټ رستورانټ د لاسي صنایعو د پلور له درکه په یوه ربع کې **۳۲۰۰۰۰** افغانۍ عواید لاسته راوړي دي. نوموړي رستورانټ د هغو څینو مالونو له درکه چې د سوداګرۍ په موخه یې د ربعې په لومړۍ اونۍ کې وارد کړي وه د انتفاعي معاملو مالیه (**۲۰۰۰** افغانۍ) ورکړې ده. نوموړي رستورانټ همدارنګه په همدې ربع کې د رستورانتي خدمتونو له درکه **۱۰۵۰۰۰۰** افغانۍ عواید لاسته راوړي دي.

نوموړي رستورانټ باید د دې موضوع په اړه د **۱۳۸۹** کال د میزان تر **۱۵** نیټې پورې په لاندې ډول رپوټ ورکړي:

ربعواره مالیاتي دوره له سرطان څخه تر سنبلې پورې

نوموړي رستورانټ باید د دې موضوع په اړه د **۱۳۸۹** کال د میزان تر **۱۵** نیټې پورې په لاندې ډول رپوټ ورکړي:

ربعواره مالیاتي دوره له سرطان څخه تر سنبلې پورې

## د انتفاعي معاملو ۲ فیصده مالیه

**۱۱** کرښه-له خدمتونو او مالونو څخه لاسته راغلي مجموعي عواید **۳۲۰۰۰۰**

**۱۴** کرښه - د ربعې مجموعه **۳۲۰۰۰۰**

**۱۵** کرښه - ربعواره مالیه (په ٪ ۲ کې ضرب) **۶۴۰۰**

## د انتفاعي معاملو ۱۰ فیصده مالیه

۲۰ کرښه - د عصري او نوو هوټلونو او رستورانتونو مجموعي عواید ۱۰۵۰۰۰۰

۲۲ کرښه - د ربعي مجموعه ۱۰۵۰۰۰۰

۲۳ کرښه - میاشتنۍ مالیه( په ۱۰٪ کې ضرب) ۱۰۵۰۰۰

۲۴ کرښه - د ورکړې وړ ربعواره مالیه ۱۱۱۴۰۰

۲۵ کرښه - دربعې په جریان کې د مجموعي ورکړل شوې انتفاعي معاملو مالیه ۲۰۰۰

۲۶ کرښه - د ورکړې وړ مجموعي مالیه ۱۰۹۴۰۰

## یو تشبث که د یوې ربعې په جریان کې عواید ونلري، څه به پیښ شي؟

که چیري یو تشبث د انتفاعي معاملو مالیې د هغو کټګوریو سره برابر وي چې په دې لارښود کې پرې بحث شوي دي ولې په اړونده ربع کې عوایدو ونلري، په دې حالت کې هم نوموړي تشبث مکلف دي چې خپل اظهارلیک له یوه داسې صورت حساب سره یوځای وړاندې کړي چې د ربعې په دوران د عوایدو نه ترلاسه کول پکې یاد شوي وي. د یادونې وړه ده چې د انتفاعي معاملو مالیه پرمجموعي عوایدو باندې دتطبیق وړ ده نه پر خالصې ګټې باندې. که چیرې دعوا ومنل شي، نو په دې ربع کې تشبث د انتفاعي معاملو مالیې تابع نه دي، اما که چیرې ثابته شي چې دعوا ناسمه یا غلطه وه، تشبث مکلف دي چې د مالیاتو قانون د ۱۰۰ او ۱۰۴ مادې پربسنټ د مالیې له ورکړې سره سره د جریمې په توګه اضافي مالیه هم ورکړي.

## هغه عواید چې د انتفاعي معاملو له مالیې څخه معاف دي

- هغه عواید چې له لاندې مدارکو څخه لاسته راغلي وي:

ټکټانه

د مالونو او خدمتونو صادرول

د هغه استوګنځي کرایه یا اجاره چې حقیقي شخص ته په

کرایه ورکول شوي وي، البته په دې شرط چې کرایه کوونکي شخص به د مالیاتي کال په جریان کې له استوګنځي څخه د ۶ میاشتو لپاره د استوګنې په موخه کار اخستي وي.

- د حقیقي شخص د تشبث او یا سوداګریز فعالیت نه بهر د حقیقي شخص لخوا د جایداد پلور. دا ډول خرڅلاو هغه وخت د حقیقي شخص له سوداګریز فعالیت سره تړلي نه ګڼل کیږي چې دوام دار نه وي.
- د اسعارو له تبادلې څخه لاسته راغلي فیس، د سپما او نورو بانکي حسابونو فعالیتونه، په بانکي حساب کې د پیسو ساتل او ویستل، انټرنټي بانکي خدمتونه، د چیکونو او ضمانت لیکونو صادرول، د رهن او قرضو ورکول، د امتیازونو ورکړه.
- د نغدو پیسو قراردادونو صادرول چې په راتلوونکي کې ترې یوې ځانګړې نیټې پورې محدود وي.
- په راتلوونکي کې هغه قرار دادونه چې په فزیکي توګه وجود لري.
- د بنې بیمې یا د بنې بیمې د دویم ځل چمتوکولو لپاره ورکړې.
- له سهامي شرکت، محدود المسؤلیت شرکت او یا له تضامني شرکت څخه د یوه ونډه لرونکي لخوا دده د ونډې او د شراکت د ګټې په تناسب د ونډې ترلاسه کول
- مزد یا معاش

## اجرایوي حکمونه

پرعایداتو باندې د مالیاتو له قانون څخه د نه پیروي په صورت کې به د مالیې وزرات له خپل قانوني اداري واک نه په استفادې سره د اطاعت پذیري په موخه اقدامات ترسره کړي. په دې اړه اړوند حکمونه د مالیاتو قانون په ۱۴ او ۱۲ فصل کې شتون لري چې جریمې او حبس (زنداني کیدل) پکې شامل دي.

## معلومات له کوم ځاي نه ترلاسه کیداي شي؟

لارښووني، لارښودونه او فورمې د عوایدو لوي ریاست په مالیاتي ادارو او مستوفیتونو کې شتون لري او مالیه ورکوونکو ته له کوم فیس یا لګښت نه پرته (مفت) ورکول کیږي. نوموړي اسناد هم په چاپي بڼه او هم په لاندې ویب پاڼه کې چې د ترلاسه کیدو وړ دي شتون لري: http://www.ard.gov.af.

په ویب پاڼه کې د عوایدو لوي ریاست د مالیاتي ادارو او مستوفیتونو د تماس پتې او کاري وختونه هم شتون لري. همدارنګه مالیه ورکوونکي کولاي شي چې د ویب پاڼې له لیارې هر ډول ګټور معلومات لکه عامه اعلانونه او طرزالعملونه، پرمعاش باندې د موضوعي مالیې، د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتوقانون او د مالیاتو قانون د تعلیماتنامې په اړه پوښتنې او ځوابونه، ترلاسه کړي. پرعایداتو باندې دمالیاتو قانون تعلیماتنامه هره ماده او اړوند مقررات د بیلګو په وړاندې کولو سره تشریح او توضیح کوي.

001E 01 03 2012

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مالیی وزارت
د عوایدو لوی ریاست
۱۳۹۱

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Finance
Afghanistan Revenue Department
1391
*www.ard.gov.af*

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
ریاست عمومی عواید
۱۳۹۱